# د عاموس نبي کتاب

## د کتاب پېژندنه

د دې کتاب لیکونکي عاموس د اسراییلو په شمال کې د شپونتوب دنده درلودله. خو څښتن هغه ته د میلاد څخه مخکې د اتمې پېړۍ موده کې د رسالت دپاره بلنه ورکړه. د عاموس نبي زیاتې موعظې د اسراییلو د شمالي پاچاهۍ چې پایتخت یې سامره وه، د خلکو په هکله وې. د عاموس په زمانه کې خلکو ډېر ارام ژوند درلود. نویو شتمن شویو خلکو به په داسې حال کې چې په مذهبي جشنونو کې به یې ګډون کاوه او قربانۍ به یې وړاندې کولې، په نورو باندې ظلم کاوه.

په هغه وخت کې د مذهبي مراسمو ترسره کول یوه ریاکاري وه او ربښتیني امنیت یوه ظاهري بڼه درلودله. په دې کتاب کې عاموس لومړی د خپل شاوخوا ډېر قومونه محکوم او ملامته کړل او بیا یې د اسراییلو خلک او په ځانګړې توګه هغه شتمن خلک محکوم کړل چې په عیاشۍ او عیش او عشرت کې یې ژوند کاوه. هغوی ډېر زیات قدرت درلود او د هغه څخه یې د غریبو خلکو په لوټولو کې کار اخیست او د هغوی څخه یې غلامان جوړول.

عاموس د هغوی پام خپلو غلطیو ته راواړاوه او هغوی ته یې وویل چې په دې خپلو ظاهري مذهبي چلند او کړنو سره خدای په قهر کوي. عاموس نبي هغوی وهڅول او ویې ویل: «پرېږدئ چې عدالت لکه د اوبو او انصاف لکه د نهر په شان وبهیږي.» د دې کتاب د مهمو ایتونو څخه د پنځم فصل پنځلسم ایت دی چې وایي: «د بدۍ څخه ځان وساتئ او د نېکۍ سره مینه ولرئ او په محکمو کې عدالت ټینګ کړئ، کېدای شي چې مطلق قادر څښتن د قوم په پاتې شویو خلکو باندې رحم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړي.» د عاموس په وروستنۍ رویا کې د امید لړه رڼا ښکاري چې د داود کور به بېرته جوړ شي.

## د موضوعګانو لست

د اسراییلو د ګاونډیانو په هکله قضاوت ۱:۱-۲: ۵
د اسراییلو په هکله قضاوت ۲:۶-۶:۱۴
پنځه رویاګانې ۷:۱-۹:۱۰
د اسراییلو روښانه راتلونکی ۹:۱۱-۱۵

١ ۱ دا د تقوع د ښارګوټي د یو مالداره شپون عاموس خبرې دي. د زلزلې نه دوه کاله مخکې
کله چې عزیا د یهودا پاچا ؤ او د یهوآش زوی یروبعام د اسراییلو پاچا ؤ، نو خدای عاموس ته د
اسراییلو په هکله دا ټول شیان وښودل.

۲ هغه وویل:

ښتن غورېږي د صهیون د غره نه لکه زمري په شان

اوربل کیږي یې اواز د اورشلیم نه لکه د تندر په شان

وچیږي د څرځایونه

او د کرمل په غره باندې وابنه وچیږي

## د اسراییلو د ګاونډیانو په هکله د خدای قضاوت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## سوریه

۳ ښبښتن داسې وايي: «د دمشق خلکو په پرله پسې توګه ګناه کړې ده، نو له دې امله به زه
هغوی ته خامخا سزا ورکړم. هغوی د جلعاد خلکو سره وحشیانه او ظالمانه چلند کړی دی. ۴
نو زه به په هغې ماڼۍ باندې اور نازل کړم چې حزاییل پاچا جوړه کړې ده او د بنهدد پاچا قوي
کلاګانې به وسوځوم. ۵ زه به د دمشق دروازې دړې وړې کړم او د آون د درې خلک به ووژنم
او د بیت عدن پاچا به له منځه یوسم. د سوریې خلک به د اسیرانو په توګه د قیر وطن ته بوتلل
شي.»

دا هغه څه دي چې ښبښتن ويلي دي.

## فلسطین

۶ ښبښتن داسې وايي: «د غزې خلکو په پرله پسې توګه ګناه کړې ده، نو له دې امله به زه هغوی
ته خامخا سزا ورکړم. هغوی د ټولو کلیو خلک په جلاوطنۍ بوتلل او د ادوم خلکو ته یې په لاس
ورکړل. ۷ نو زه به د غزې د ښار په دېوالونو باندې اور نازل کړم او اور به د هغه قوي کلاګانې
وسوځوي. ۸ زه به د اشدود خلک تباه کړم او د اشقلون د ښار پاچا به له منځه یوسم. زه به د
عقرون ښار ته سزا ورکړم او کوم فلسطینیان چې پاتې دي، هغوی ټول به ووژل شي.»

دا هغه څه دي چې ښبښتن تعالی ويلي دي.

## د صور ښار

۹ ښبښتن داسې وايي: «د صور د ښار خلکو په پرله پسې توګه ګناه کړې ده، نو له دې امله به زه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی ته خامخا سزا ورکړم. هغوی د ټولو کلیو خلک بوتلل او د ادوم خلکو ته یې په لاس ورکړل
او هغوی چې د وروروګلوۍ کوم تړون کړی ؤ، هغه یې مات کړ. ۱۰ نو زه به د صور د ښار په
دېوالونو باندې اور نازل کړم او اور به د هغه قوي کلاګانې وسوځوي.»

## ادوم

۱۱ څښتن داسې وايي: «د ادوم خلکو په پرله پسې توګه ګناه کړې ده، نو له دې امله به زه هغوی
ته خامخا سزا ورکړم. هغوی خپلو خپلوانو یعنې اسراییلیانو پسې توره راخیستې ده او په هغوی
باندې یې هېڅ رحم نه دی کړی. د هغوی قهر او غضب بېحده ؤ او هېڅ نه سړېده. ۱۲ نو زه به د
تیمان په ښار باندې اور نازل کړم او د بصرې قوي کلاګانې به وسوځوم.»

## عمون

۱۳ څښتن داسې وايي: «د عمون خلکو په پرله پسې توګه ګناه کړې ده، نو له دې امله به زه
هغوی ته خامخا سزا ورکړم. هغوی په جلعاد کې د زیاتې سیمې د نیولو په خاطر د امیدوارو ښځو
خېټې وشکولې.

۱۴ نو زه به د ربه د ښار په دېوالونو باندې اور واچوم او د هغه قوي کلاګانې به وسوځوم، نو په
هغه ورځ به هلته د جنګ چیغې جوړې شي او جنګ به لکه د توفان په شان راشي. ۱۵ او د هغه
پاچا به د خپلو مامورانو سره جلاوطنه شي.»

دا هغه څه دي چې څښتن ویلي دي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## موآب

۲ ۱ ښښتن داسې وايي: «د موآب خلکو په پرله پسې توګه ګناه کړې ده، نو له دې امله به زه
هغوی ته خامخا سزا ورکړم. هغوی د ادوم د پاچا هډوکي وسوځول او هغه يې په ايرو باندې بدل
کړل. ۲ نو زه به د موآب په خلکو باندې اور نازل کړم او د قريوت د ښار قوي کلاګانې به
وسوځوم. کله چې عسکر چيغې وهي او سرني وهل کيږي، نو د موآب خلک به د جنګ په
شورماشور کې مړه شي. ۳ زه به د موآب حاکم له منځه يوسم او د وطن ټول مشران به وژنم.»

دا هغه څه دي چې ښښتن ويلي دي.

## يهودا

۴ ښښتن داسې وايي: «د يهودا خلکو په پرله پسې توګه ګناه کړې ده، نو له دې امله به زه هغوی
ته خامخا سزا ورکړم، ځکه چې هغوی زما د شريعت سپکاوی کړی او زما په حکمونو باندې يې
عمل نه دی کړی. هغوی د هماغو غلطو خدايانو په وسيله بې لارې شوي دي چې د هغوی نيکونو
يې خدمت کاوه. ۵ نو زه به په يهودا باندې اور نازل کړم او د اورشليم قوي کلاګانې به وسوځول
شي.»

## د اسراييلو په هکله د خدای قضاوت

۶ ښښتن داسې وايي: «د اسراييلو خلکو په پرله پسې توګه ګناه کړې ده، نو له دې امله به زه
هغوی ته خامخا سزا ورکړم. هغوی هغه نېکان خلک په غلامۍ باندې خرڅوي چې خپل پوروونه نه
شي ورکولای او غريبان خلک چې حتی د يوې جوړې څپليو بيه هم بېرته نه شي ورکولی،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خرخوي. ۷ هغوی کمزوري او بې‌وسه خلک ترپښو لاندې کوي او غریبان په ټېل وهلو باندې د
لارې څخه اخوا کوي. پلار او زوی دواړه د هماغې یوې انجلۍ سره څملي او زما د پاک نامه
سپکاوی کوي. ۸ خلک د هر عبادتځای په خوا کې په هغو کالیو باندې څملي چې د غریبانو نه
یې د پور په ضمانت کې اخیستي دي. هغوی د خپل خدای په کور کې په هغو پیسو باندې شراب
څښي چې د خلکو څخه یې د جریمې په توګه اخیستي دي.

۹ خو بیاهم ای زما قومه، هغه زه وم چې ستاسو په خاطر مې هغه اموریان نابود کړل چې د سبر
د ونو په شان لوړ قدي وو او د خېړیو د ونو په شان قوي وو. ما له څانګو نه مېوه تباه کړله او د
هغو ریښې مې راوویستلې. ۱۰ همدارنګه زه وم چې تاسو مې د مصر نه راوویستلئ او څلوېښت
کاله مې په دښته کې ستاسو لارښوونه وکړه او ما د اموریانو ځمکه درکړه چې ستاسو شي. ۱۱
ستاسو د زامنو څخه مې ځینې غوره کړل چې پیغمبران شي او ځینې ځانګړي ځوانان د نذر شویو
په توګه وقف کړل. ای د اسراییلو خلکو، ایا دا رښتیا نه دي؟

دا هغه څه دي چې څښتن ویلي دي.

۱۲ خو تاسو په هغو نذر شویو باندې شراب وڅښل او پیغمبرانو ته مو حکم وکړ چې پېشګویي
ونه کړي. ۱۳ نو ګورئ زه به تاسو په ځمکه راوولم او داسې زګېروي به کوئ لکه ګاډۍ چې د
غلو دانو د بار لاندې شي. ۱۴ حتی هغه څوک چې تېزې منډې وهي، هغه هم نه شي تښتېدلی.
قوي خلک به خپل قوت بایلي او عسکر به د دې توان نه لري چې خپل ژوند وژغوري. ۱۵
غشي ویشتونکي به ټینګېدلی نه شي، تېز منډه وهونکي به ونه تښتي او په اسونو باندې سپاره خلک
به خپل ځانونه خلاصولی نه شي.»

۱۶ په هغه ورځ به ډېر زړور عسکر هم خپلې وسلې په ځمکه وغورځوي او وبه تښتي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا هغه څه دي چې ښېښتن ویلي دي.

۳ ۱ ای د اسراییلو خلکو، دې خبرو ته چې ښېښتن په کې ستاسو یعنې د ټول قوم په خلاف
چې د مصر څخه یې راوویستلئ، غوږ ونیسئ: ۲ «د ځمکې په مخ ټولو قومونو کې تاسې
یوازېنی قوم یئ چې ما غوره کړي یئ، نو ستاسو د ډېرو ګناهونو په خاطر باید جزا درکړم.»

## د پیغمبرانو کار

۳ ایا دوه کسان سفر کولی شي یوځای

بې له دې چې موافق وي چې داسې وکړي؟

۴ ایا کوم زمری غړمبېږي په ځنګل کې

چې ترڅو یې ښکار نه وي لیدلی؟

ایا د زمري بچي غورېږي په خپل غار کې

ترڅو یې چې کوم شی نه وي نیولی؟

۵ ایا په تیلک کې راګېرېږي مرغۍ

که چېرې نه وي ایښې په کې د خوراک کوم شی؟

ایا بېرته راټولېږي یو دام؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

که چېرې په کې نه وي نیول شوی کوم ښی؟

۶ کله چې ووهل شي د جنګ سرنی

ایا خلک نه وېرېږي؟

ایا په ښار باندې راتلی شي مصیبت

ترڅو نه وي نازل کړی څښتن یو افت؟

۷ څښتن تعالی هېڅکله کوم کار نه کوي

ترڅو خپلو خادمانو یعنې پیغمبرانو ته

یې خپل پلان ښودلی نه وي

۸ چې یو زمری کله غړمبېږي

نو داسې به وي کوم څوک چې ونه وېرېږي؟

کله چې کړي څښتن تعالی خبرې

نو څوک کولی شي چې اعلان نه کړي پیغام د هغه؟

## د سامرې په هکله قضاوت او تباهي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ د اشدود د کلاګانو خلکو ته او د مصر د کلاګانو خلکو ته اعلان وکړئ: «د سامرېٖ په شاوخوا
غونډېو باندې سره راټول شئ. او هلته یوه لویه ګډوډي او هغه ظلمونه چې په هغه ځای کې کیږي،
وګورئ.»

۱۰ څښتن وایي: «د سامرېٖ خلک په دې نه پوهیږي چې څنګه سم کار وکړي. خلکو خپلې
کلاګانې د هغو شیانو څخه ډکې کړې دي چې په غلا او ظلم زیاتي باندې یې لاسته راوړي دي.»

۱۱ نو څښتن تعالی داسې وایي: «دښمن به د هغوی وطن کلابند کړي او د هغوی دفاعي قدرت به
له منځه یوسي او د هغوی کلاګانې به لوټ کړي.»

۱۲ څښتن داسې وایي: «لکه څنګه چې یو شپون د زمري د خولې نه د پسه یوازې دوه پښې او د
غوږ یوه ټوټه به بېرته لاسته راوړي، نو د سامرېٖ د خلکو نه به چې اوس د عیاشۍ په کټونو او
کوچونو باندې پراته دي، یوازې څو تنه ژوندي پاتې شي.»

۱۳ مطلق قادر څښتن خدای وایي: «اوس غوږ ونیسئ او د یعقوب اولادې ته خبرداری ورکړئ.
۱۴ په کومه ورځ چې زه د اسراییلو خلکو ته د هغوی د ګناهونو په سبب سزا ورکوم، نو زه به د
بیت‌ییل د قربانۍ ځایونه وران کړم. د قربانۍ د ځای ښکرونه به ټوټې ټوټې شي او په ځمکه به
راوغورځیږي. ۱۵ زه به د اوړي او ژمي تېرولو کورونه وران کړم. هغه کورونه چې د فیل په
غاښونو باندې ښکلي کړای شوي دي، هغه به په کنډوالو باندې بدل شي او هر لوی کور به وران
شي.»

دا هغه څه دي چې څښتن ویلي دي.

# ۴

۱ ای د سامرېٖ مېرمنو چې د باشان د غواګانو په شان چاغې شوې یئ، د کمزورو خلکو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره بد چلند کوئ، په غريبانو باندې ظلم کوئ او د خپلو مېړونو څخه غواړئ چې تاسو ته شراب
راوړي، دې خبرو ته غوږ ونيسئ! ۲ څښتن تعالی چې سپېڅلی ذات دی، قسم خوړلی دی:
«هغه وخت راروان دی چې هغوی به په تاسو کې چنګک واچوي او تاسو به لکه د ماهيانو په شان
راکاږي. ۳ تاسو هر يو به د دېوال نژدې سوريو کې راښکل کېږئ او دباندې حرمون ته به
غورځول کېږئ.» دا هغه څه دي چې څښتن ويلي دي.

۴ ای د اسراييلو خلکو، نو بيا لاړ شئ او په بيت‌ييل کې ګناه وکړئ! جلجال ته لاړ شئ او
څومره چې کولای شئ ګناه وکړئ! هر سهار خپلې قربانۍ او په هره درېمه ورځ خپل عشر راوړئ.
۵ لاړ شئ او خدای ته د شکرانې ډوډۍ وړاندې کړئ او تاسو چې د خپلې خوښې کومې اضافي
نذرانې راوړئ، نو د هغو په هکله لافې ووهئ! ځکه چې دا کار ستاسو اسراييليانو خوښ دی. دا
هغه څه دي چې څښتن تعالی ويلي دي.

## اسراييل خدای ته رجوع نه کوي

۶ دا زه وم چې ستاسو په ټولو ښارونو باندې مې لوږه راوستله او په هر ځای کې مې قحطي
راوستله، خو بياهم تاسو ماته رجوع ونه کړه. دا هغه څه دي چې څښتن ويلي دي.

۷ کله چې ستاسو فصلونو ته د باران سخته اړتيا وه، نو ما باران بند کړ. په يو ښار باندې مې
باران ووراوه او په بل ښار باندې مې بند کړ. په يو پټي باندې باران واورېده او په بل پټي چې باران
ونه واورېده وچ شو. ۸ د څو ښارونو تندې وهلي خلک به ښار په ښار د اوبو پيدا کولو په هيله
ګرځېدل، خو هلته به د څښلو دپاره زياتې اوبه نه وې. خو بياهم تاسو ماته رجوع ونه کړله. دا هغه
څه دي چې څښتن ويلي دي.

۹ ما يو سوځوونکی باد او مرض نازل کړ چې ستاسو فصلونه وچ شي. ستاسو ټول باغونه او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاکونه، د انځرو او د زیتونو ونې ملخانو وخوړلې. خو بیاهم تاسو ماته رجوع ونه کړله. دا هغه څه دي چې څښتن ویلي دي.

۱۰ کومه بلا چې ما په مصر باندې راوستې وه، هغه مې په تاسو باندې راوستله. ستاسو ځوانان مې په جنګ کې ووژل او اسونه مې درڅخه واخیستل. ستاسو پوزې مې په خېمو کې د مړو د بوی نه ډکې کړلې. خو بیاهم تاسو ماته رجوع ونه کړله. دا هغه څه دي چې څښتن ویلي دي.

۱۱ ما ستاسو ځینې خلک د سدوم او عموره د خلکو په شان تباه کړل. ستاسو نه چې کوم خلک ژوندي پاتې شوي وو، نو هغوی د سوځېدلي لرګي په شان وو چې د اور نه راویستل شوي وو. خو بیاهم تاسو ماته رجوع ونه کړله. دا هغه څه دي چې څښتن ویلي دي.

۱۲ نو ای د اسراییلو خلکو، زه تاسو ته سزا درکوم. څرنګه چې زه دا کار کوم، نو زما قضاوت ته تیار شئ!

۱۳ دا هغه ذات دی چې جوړ کړي یې دي غرونه

او پیدا کړي یې دي بادونه

هغه خبروي انسانان خپلو خیالونو نه

هغه ورځ بدلوي شپې باندې

هغه ګرځي د ځمکې په اوچتو ځایو

د هغه نوم دی مطلق قادر څښتن خدای

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

**۵** ١ ای د اسراییلو خلکو، دې د ویر سندرې ته چې ستاسو دپاره یې وایم غوږ ونیسئ:

٢ راوغورځېدله اسراییلی پېغله

بیا به هېڅکله راپورته نه شي

پرېښودل شوې ده هغه په خپل وطن کې

هېڅوک نشته چې کړي راپورته هغه

٣ څښتن تعالی داسې وايي: «د یو ښار نه زر تنه عسکر لېږل کیږي، خو یوازې سل تنه یې بېرته
راستنیږي او بل ښار سل تنه لېږي، خو یوازې لس تنه ورځخه بېرته راستنیږي.»

٤ څښتن د اسراییلو خلکو ته داسې وايي: «ماته راشئ، نو تاسو به ژوندي پاتې شئ. ٥ ما په
بیت‌ییل کې مه لټوئ، جلجال ته مه ځئ او بیرشبع ته سفر مه کوئ، ځکه چې د جلجال خلک به
خامخا جلاوطنه شي او بیت‌ییل به له منځه لاړ شي.»

٦ څښتن ته ورشئ، نو تاسو به ژوندي پاتې شئ. که ورنه شئ، نو هغه به لکه د اور په شان د
اسراییلو په خلکو باندې رانازل شي. دا اور به د بیت‌ییل خلک وسوځوي او هېڅوک به نه شي
کولای چې هغه اور مړ کړي. ٧ افسوس په تاسو، خو تاسو انصاف په زهرو بدل کړی او عدالت
مو تر پښو لاندې کړی دی.

٨ چې پیدا کړي دي چا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ثریا او د جبار ستوري

هغه څوک چې بدلوي تیاره د سهار په رڼا

او ورځ په شپه باندې

هغه څوک چې راغواړي اوبه د بحر

او اوروي یې په ځمکه

د هغه نوم دی څښتن

۹ هغه له منځه وړي قوي خلک

او ورانوي یې کلاګانې قوي

۱۰ تاسو د هغه چا نه کرکه کوئ چې بې‌انصافۍ ته بد وایي او په محکمه کې رښتیا وایي. ۱۱
تاسو غریبان تر پښو لاندې کوئ او غلې په مالیه کې ورڅخه په زوره اخلئ. نو تاسو چې د ښایسته
تیږو څخه کوم کورونه جوړ کړي دي، په هغو کې به ونه اوسېږئ او نه به د هغو ښایسته تاکونو چې
تاسو یې کرئ، شراب وڅښئ. ۱۲ ځکه زه پوهېږم چې ستاسو ګناهونه څومره زیات دي او
څومره ډېر جرمونه مو کړي دي. تاسو نېکان خلک ځوروئ، رشوتونه اخلئ او په محکمو کې د دې
مخنیوی کوئ چې غریبان دې خپل حقونه ترلاسه کړي. ۱۳ نو په داسې بد وخت کې باید
هوښیار انسان چوپ پاتې شي!

۱۴ نېک کارونه کوئ او بد کارونه مه کوئ، نو تاسو به ژوندي پاتې شئ. بیا به مطلق قادر څښتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای په رښتیا ستاسو سره مل وي، لکه څنګه چې تاسو دعوه کوئ چې هغه ستاسو سره مل دی.
۱۵ د بدۍ نه کرکه کوئ، د نېکۍ سره مینه کوئ او په محکمو کې عدالت ټینګ کړئ. نو کېدای
شي چې مطلق قادر څښتن خدای د اسراییلو په هغو خلکو باندې چې ژوندي پاتې شوي دي، رحم
وکړي.

۱۶ نو مطلق قادر څښتن خدای داسې وايي: «په ټولو چوکونو کې به ژړاګانې او په ټولو کوڅو کې
به انګولا وي. تر دې چې بزګران به هم د ژړا دپاره راوغوښتل شي او ماتم کوونکي به د وير دپاره
راوغوښتل شي. ۱۷ د انګورو په ټولو باغونو کې به ژړا او انګولا وي، ځکه چې زه به تاسو ته د
سزا ورکولو دپاره راشم.» دا هغه څه دي چې څښتن ویلي دي.

## د څښتن ورځ

۱۸ افسوس ستاسو په حال چې د څښتن د ورځې د راتللو ارمان کوئ! تاسو ولې هغه ورځ
غواړئ؟ دا به ستاسو دپاره د رڼا نه، بلکې د تیارې ورځ وي. ۱۹ دا به داسې وي لکه څوک چې
د زمري نه منډې وهي او د ایږې سره مخامخ شي! یا چې څوک کور ته راورسیږي او په دېوال
باندې لاس کېږدي او مار یې وچیچي! ۲۰ د څښتن ورځ به رڼا نه، بلکې تیاره راولي. دا به د
تورې تیارې ورځ وي او هېڅ رڼایي به نه لیدل کیږي.

۲۱ څښتن وايي: «ستاسو د اخترونو څخه کرکه لرم او ستاسو مذهبي غونډې ما نه شي
خوشحالولی! ۲۲ کله چې تاسو ماته سوځېدونکې نذرانې او د غلو دانو نذرانې راوړئ، نو زه به
یې نه قبلوم. که تاسو ماته هغه حیوانات چې تاسو چاغ کړي دي، د سلامتۍ د نذرانو په توګه
راوړئ، نو زه به یې پروا ونه کړم. ۲۳ خپل د شورماشور نه ډکې سندرې مو بس کړئ. زه نه
غواړم چې ستاسو د چنګ اوازونه واورم. ۲۴ خو د دې په ځای دې انصاف د ویالې په شان روان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي او عدالت دې د هغه سيند په شان چې هېڅکله نه وچېږي.

۲۵ ای د اسراييلو خلکو، څلوېښت کاله چې تاسو په دښته کې وئ، ايا ما ستاسو نه قربانۍ او
نذرانې غوښتې دي؟ ۲۶-۲۷ خو اوس چې تاسو د خپلو خدايانو پاچا يعنې د سکوت مجسمو او
کيوان يعنې ستاسو د ستورو خدای چې تاسو جوړ کړی دی، نو کله چې زه تاسو د دمشق نه اخوا
يو وطن ته جلاوطنه کړم، هغه به د ځان سره يوسئ.»

ښتن چې نوم يې مطلق قادر خدای دی داسې وايي.

## د اسراييلو او يهودا تباه کېدل

۶ ۱ افسوس ستاسو په حال چې په صهيون کې ارام ژوند تېروئ او تاسو چې په سامره کې په
امن کې يئ. ای د اسراييلو د ډېر لوی قوم مشرانو، چې خلک درته د مرستې په خاطر درځي! ۲
لاړ شئ او د کلنه ښار ته وګورئ. بيا د حمات لوی ښار ته لاړ شئ او بيا د فلسطين ښار جت ته
لاړ شئ. ايا تاسو د يهودا او اسراييلو د پاچاهيو ښخه ښه يئ؟ ايا د هغوی سيمه ستاسو د سيمې
ښخه لويه ده؟ ۳ تاسو دا نه منله چې د مصيبت هغه ورځ راروانه ده، خو ستاسو د خپلو بدو
عملونو له امله به د ظلم او زياتي حکومت قايم شي.

۴ افسوس ستاسو په حال چې د فيل په غاښونو باندې په ښکلي کړای شويو تختونو او نرمو
توشکونو باندې ناست يئ او د چاغو خوسيو او وريو په غوښو باندې مېلې کوئ! ۵ تاسو دا
خوښوئ چې د داود په شان سندرې جوړې کړئ او د چنګونو د ساز سره يې ووايئ. ۶ تاسو په
جامونو جامونو شراب ښښئ او ډېر ښه عطر کاروئ، خو د اسراييلو په تباهۍ باندې وير نه کوئ.
۷ نو تاسو به لومړني خلک يئ چې په جلاوطنۍ باندې به ځئ. ستاسو اخترونه او مېلمستياوې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به پای ته ورسیږي.

٨ مطلق قادر څښتن تعالی په خپل ذات باندې قسم خوړلی دی او داسې وايي: «زه د اسراييلو د غرور نه کرکه لرم او د هغوی د عياشۍ کلاګانې مې بدې راځي. زه به د هغوی پايتخت او هرڅه چې په کې دي، هغه به دښمنانو ته ورکړم.»

٩ که په يوې کورنۍ کې لس تنه هم پاتې وي، نو هغوی به مړه شي. ١٠ د مړ شوي کس کوم خپلوان چې د جنازې د مراسمو مشري کوي، هغه به هغه مړی د کور نه يوسي. نو دا خپلوان به د هغه چا نه چې ژوندی پاتې شوی دی، پوښتنه کوي: «ايا ستاسو په کور کې نور څوک شته؟» نو هغه به ځواب ورکړي: «نه!» نو هغه خپلوان به يې ووايي: «غلی شه! مونږ بايد احتياط وکړو چې د څښتن نوم هم په خوله وانخلو.»

١١ نو کله چې څښتن حکم وکړي، لوی او واړه کورونه دواړه دې د خاورو سره خاورې شي.
١٢ ايا اسونه په ګټانو باندې ځغلېدلی شي؟ ايا څوک په بحر کې په غويانو باندې قلبه کولای شي؟ خو تاسو انصاف په زهرو او د عدالت خوږه مېوه مو ترخه کړې ده.

١٣ تاسو د لوديبار د ښارګوټي په نيولو خوشحالي کوئ. تاسو لافې وهئ او وايئ: «مونږ دومره تکړه يو چې د کارناييم ښارګوټی هم نيولی شو.»

١٤ مطلق قادر څښتن خدای په خپله وايي: «ای د اسراييلو خلکو، زه به يو پردی لښکر درولېږم چې ستاسو وطن ونيسي. هغوی به په شمال کې د حمات د غاښي نه نيولې په جنوب کې د عربه تر ويالې پورې په تاسو باندې ظلم کوي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ملخانو په هکله رویا

۷ ۱ ښتن تعالی ماته رویا وښودله. په هغې رویا کې ما ولیدل چې وروسته له هغې چې د
پېیو څخه هغه حاصلات چې د پاچا برخه وه، راټول شول او د غلو دوهم فصل نوی شین شوی ؤ،
ښتن ډلې ډلې ملخان راپیدا کړل. ۲ ما په خپلې رویا کې ولیدل چې ملخانو د ځمکې په مخ
ټول شنه بوټي وخوړل. نو بیا ما وویل: «ای ښتن تعالی، خپل قوم دې وبخښه! د اسراییلو قوم به
څنګه ژوندی پاتې شي؟ هغوی ډېر کوچني او کمزوري دي!»

۳ ښتن د رحم له مخې خپله پرېکړه بدله کړه او ویې ویل: «تا چې څه ولیدل، داسې به نه
کیږي.»

## د اور په هکله رویا

۴ ښتن تعالی ماته یوه بله رویا راوښودله. په هغې کې مې ولیدل چې هغه تیاری نیوه چې خپل
قوم ته د اور په وسیله سزا ورکړي. هغه اور ژورې بحیرې وسوځولې او د ځمکې په سوځولو یې
پیل وکړ. ۵ بیا ما وویل: «ای ښتن تعالی، بس کړه! د اسراییلو قوم به څنګه ژوندی پاتې شي؟
هغه ډېر کوچنی او کمزوری دی!»

۶ ښتن خپله پرېکړه بدله کړه او ویې ویل: «تا چې څه ولیدل، هماغسې به نه کیږي.»

## د شاقول په هکله رویا

۷ ماته ښتن یوه بله رویا وښودله. په هغې کې ما ولیدل چې ښتن د هغه دېوال په خوا کې
چې په شاقول باندې جوړ شوی ؤ، ودرېده او شاقول یې په لاس کې نیولی ؤ. ۸ هغه زما څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پوښتنه وکړه: «عاموسه، ته څه وينې؟»

ما ځواب ورکړ: «زه شاقول وينم.»

بيا هغه وويل: «په دې شاقول باندې زه غواړم وښايم چې زما قوم اسراييل د دې دېوال په شان سم
نه دی. زه به نور تاسو بې له سزا پرېنږدم. ۹ په کومو ځايونو کې چې د اسحاق اولاده عبادت
کوي، هغه به وران کړم. د اسراييلو سپېڅلي ځايونه به په کنډوالو باندې بدل شي. زه به د يروبعام
پاچا خاندان ختم کړم.»

## عاموس او امصيا

۱۰ د بيت‌ييل کاهن امصيا د اسراييلو پاچا يروبعام ته دا خبر ورولېږه: «عاموس د اسراييلو د
خلکو په منځ کې ستا په خلاف دسيسه جوړوي. د هغه خبرې د زغملو وړ نه دي. ۱۱ عاموس
داسې وايي: ‹يروبعام به په جنګ کې مړ شي او د اسراييلو خلک به د خپل وطن نه په جلاوطنۍ
بوتلل شي.›»

۱۲ بيا امصيا عاموس ته وويل: «ای پيغمبره، نور بس کړه! بېرته يهودا ته لاړ شه او هلته خپله
پېشګويي کوه. هغوی به درته د دې دپاره پيسې درکړي. ۱۳ په بيت‌ييل کې نورې پېشګويانې مه
کوه. دا د پاچا د عبادت ځای دی او د ټولو خلکو عبادتځای دی.»

۱۴ عاموس په ځواب کې وويل: «زه پيغمبر نه يم او نه زما پلار پيغمبر ؤ. زه يوازې شپون يم او د
انځرو ونې ساتم. ۱۵ خو څښتن زما نه شپونتوب واخيست او حکم يې راته وکړ: ‹لاړ شه او زما
قوم اسراييلو ته پېشګويي وکړه.› ۱۶ نو اوس د څښتن خبرو ته غوږ ونيسه. ته ماته وايې چې
پېشګويانې بس کړم او د اسراييلو د قوم په خلاف وعظ کول پرېږدم. ۱۷ نو ای امصيا، څښتن تاته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې وايي: ‹ستا د ښځې نه به د ښار فاحشه جوړه شي او زامن او لورګانې به دې په جنګ کې مړه شي. ستا وطن به په شاقول باندې اندازه او وویشل شي او نورو ته به ورکړل شي او ته په خپله به په یو کافر وطن کې مړ شې او اسراییل به خامخا د خپل وطن څخه په جلاوطنۍ بوتلل شي.›»

## د مېوو د ټوکرۍ په هکله رویا

٨ ١ څښتن تعالی ماته یوه بله رویا وښودله. په هغې کې ما د پخو مېوو یوه ټوکرۍ ولیدله.
٢ څښتن پوښتنه وکړه: «ای عاموسه، ته څه وینې؟» ما ځواب ورکړ: «د پخو مېوو ټوکرۍ.»
څښتن راته وویل: «زما د قوم اسراییلو اخري وخت رارسېدلی دی. زه به تاسو نور بې له سزا
پرېنږدم. ٣ په هغه ورځ به په عبادتځای کې چې کومې سندرې ویل کېږي، هغه به په چیغو او
ویر باندې بدلې شي. په هرځای کې به مړي پراته وي. هغه به په خاموشۍ سره دباندې غورځول
کېږي.» دا هغه څه دي چې څښتن تعالی ویلي دي.

## د اسراییلو بربادي

٤ واورئ ای هغو خلکو چې محتاج خلک تر پښو لاندې کوئ او د وطن غریبان له منځه وړئ.
٥ تاسو د خپلو ځانونو سره وایئ: «مونږ به ډېر زیات انتظار وباسو چې د نوې میاشتې اختر پای
ته ورسېږي، ترڅو وکولای شو چې خپلې غلې دانې خرڅې کړو. د سبت ورځ به کله پای ته
ورسېږي، ترڅو مونږ وکولای شو خپل خرڅلاو بیا پیل کړو؟ بیا به وکولای شو زیاتې پیسې وګټو، د
غلطو وزنونو نه کار واخلو او په خپلو ترازوګانو کې ټګي وکړو، ترڅو اخیستونکي وغولوو. ٦
مونږ کولای شو چې غنم د بوسو سره په لوړه بیه خرڅ کړو. یو داسې غریب سړی به راپیدا کړو
چې خپل پور نه شي ورکولای، حتی د یوې جوړې څپلۍ د اخیستلو پیسې هم ونه لري او هغه به
په غلامۍ باندې واخلو.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ هغه څښتن خدای چې یعقوب وربانديې ویاړ کوي، قسم خوړلی دی: «زه به هېڅکله د هغوی
بد کارونه هېر نه کړم. ۸ نو په ځمکه باندې به زلزله راشي او هر سړی به په دې وطن کې په غم
باندې اخته شي. ټول وطن به ولړزېږي، هغه به د نیل د سیند په شان پورته شي او بېرته به
راولوېږي.» ۹ څښتن تعالی داسې وايي: «په هغه ورځ به زه د غرمې په وخت کې لمر وغورځوم
او ځمکه به په رڼا ورځ توره تیاره کړم. ۱۰ زه به ستاسو اخترونه په جنازو باندې بدل کړم او
ستاسو د خوشحالی سندرې به د غم په چیغو باندې بدلې کړم. زه به په تاسو باندې سرونه وخرایم
او د ماتم کالي به درباندې واغوندم. تاسو به د هغه مور او پلار په شان شئ چې په خپل یوازېني
ماشوم باندې ویر کوي. هغه ورځ به ستاسو دپاره یوه سخته ورځ وي.»

۱۱ څښتن تعالی داسې وايي: «هغه ورځې راروانې دي چې زه به په دې وطن باندې قحطي
راولم. خلک به وږي وي، خو د ډوډۍ دپاره نه. هغوی به تږي وي، خو د اوبو تږي نه. هغوی به د
څښتن د پيغام د اورېدلو وږي او تږي وي.» ۱۲ خلک به د مړې بحیرې نه تر مدیترانې پورې او
بیا د شمال نه تر ختیځه پورې سرګردانه وي. هغوی به په هرځای کې د څښتن پیغام لټوي، خو هغه
به پیدا نه کړي. ۱۳ په هغه ورځ به ښکلې پېغلې او ځوانان د تندې له لاسه بېحاله پراته وي.
۱۴ کوم خلک چې د سامرې په بتانو باندې قسم خوري او وايي چې زمونږ دې د دان په خدای
او بیرشبع په خدای قسم وي، نو هغه خلک به داسې راولوېږي چې بیا د پاڅېدلو نه وي.»

## د قربانۍ په ځای کې د خدای رویا

**۹** ۱ ما ولیدل چې څښتن د قربانۍ د ځای سره ولاړ ؤ. هغه حکم وکړ: «د عبادتځای د ستنو
سرونه دومره وټکوه چې ټول بنیادونه یې ولړزېږي. هغه ټوټې ټوټې کړه چې د خلکو په سرونو
باندې راولوېږي. پاتې خلک به زه په جنګ کې ووژنم. هېڅوک به ونه شي تښتېدلی او هېڅوک به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلاص نه شي. ۲ که هغوی ځمکه وکني او لاندې د مړو دنیا ته هم کوز شي، نو زه به يې
راونیسم. که هغوی اسمان ته هم وخېژي، نو زه به يې لاندې راښکته کړم. ۳ که هغوی د کرمل د
غره په سر هم پټ شي، زه به يې ولټوم او راګېر به يې کړم. که هغوی د بحیرې په تل کې هم زما نه
پټ شي، زه به د بحیرې مار ته حکم وکړم چې هغوی وچیچي. ۴ که هغوی د خپلو دښمنانو له
خوا اسیران هم شي، زه به حکم وکړم چې هغوی ووژل شي. ما پرېکړه کړې ده چې د هغوی سره
مرسته ونه کړم، بلکې هغوی له منځه یوسم.»

۵ لاس به وروړي مطلق قادر څښتن تعالی

ځمکې ته او هغه به وښوييږي

څوک چې اوسيږي هلته نو ټول به شروع کړي ماتم

ټوله دنیا به پورته کيږي او رالويږي

د نیل د سیند په شان

۶ جوړوي په اسمانونو کې خپل کور څښتن

او په ځمکه يې ودروله د اسمان ګنبده

هغه راوغوښتلې د بحیرې اوبه

او ويې بهولې په ځمکه باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه سیلاب په شان

د هغه نوم دی ښښتن!

٧ ښښتن داسې وايي: «ای د اسراییلو خلکو، څومره چې زه د ایتوپیا د خلکو په هکله فکر کوم، دومره ستاسو په هکله هم کوم. لکه څنګه چې ما فلسطینیان د کریت نه او د سوریې خلک د قیر نه راوويستل، همداسې مې تاسو هم د مصر نه راوویستلئ. ٨ زه ښښتن تعالی د اسراییلو ګناهکاره پاچاهي وینم او هغه به د ځمکې د مخ نه ورکه کړم. خو د یعقوب ټوله اولاده به له منځه نه وړم.» دا هغه څه دي چې ښښتن ویلي دي.

٩ نو ګورئ، زه به حکم وکړم او د اسراییلو خلک به داسې غلبېل کړم لکه غله چې په غلبیل کې خوځیږي. کله چې هغوی د نورو قومونو په منځ کې اوسیږي، زه به يې داسې غلبیل کړم چې بد خلک لکه د تیږو په شان ورخخه لیرې شي. ١٠ زما په قوم کې چې کوم خلک ګناهکار دي، هغه به په جنګ کې ووژل شي، یعنې هغه ټول خلک چې وايي: «په مونږ به کوم مصیبت نه راځي.»

خدای به اسراییل بېرته راولي

١١ ښښتن وايي: «یوه داسې ورځ راروانه ده چې زه به د داود پاچاهي چې لکه د یو کور په شان ورانه شوې وه، بېرته جوړه کړم. زه به د هغه دېوالونه بېرته جوړ کړم او هغه کنډوالې به بېرته ابادې کړم او زه به هغه د پخوا په شان بېرته ودان کړم، ١٢ ترڅو د اسراییلو خلک به هغه څه چې په ادوم کې پاتې دي او هغه ټول قومونه چې په یو وخت کې زما وو، ونیسي.» ښښتن وايي چې همداسې به وکړي.

١٣ ښښتن داسې وايي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راروان دی هغه وخت

چې فصلونه به پخیږي د ریبلو وخت نه مخکې

او پخیږي به انګور د شرابو جوړېدو نه مخکې

او له غونډیو راتوییږي به

۱۴ زه به راولم خپل قوم بېرته خپل وطن ته

بېرته اباد به کړي دوی خپل کنډوالې ښارونه

او په کې اوسیږي به

هغوی به وکري باغونه د انګورو او شراب به یې څښې

هغوی به وکري باغونه او مېوه به یې خوري

۱۵ زه به وکرم خپل قوم هغه وطن کې

او ویستلی به بیا نه شي هغوی

له هغه وطنه چې ورکړی مې دی

دا هغه څه دي چې څښتن، ستاسو خدای ویلي دي.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.